**د افغانستان د آزاد او عادلانه ټولټاکنو بنیاد**

**بنیاد انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان**

**Free&Fair Election Foundation of Afghanistan**

**افغانستان ـ فیفا ( افغانستان د آزاد او عادلانه ټولټاکنو بنیاد) د ټاکنو در اعتراضو نو بهیر په اړه د خپلواکې څیړ نې غوښتنه کوي.**

چنګاښ ۲۶ کال ۱۳۸۹، کابل

د روان میلادی کال د پارلماني ټاکنو د اعتراضونو اوریدنې لړۍ د روڼوالي د نشتوالي سره ملګرې وه او ستونزي رامنځته کړي. دغه مطلب د فیفا لخوا چې په افغانستان کې تر ټولو ستر د ټاکنو د څار دله ده د پنجشنبه په ورځ څرګنده کړی ده، وایې: مسوول نهادونه مکلف دې ترڅو د دی بهیرپه اړوند ټول معلومات عواموو ته ورسوي. په هغه راپور کې چې د فیفا په ویبپانه کی خپور شوی، د ټاکنیزو اعتراضاتو د رسیدنې لړۍ تشریح شوی چې په هغه کی یو شمیر کاندیدان دوسلوالو ډلو سره د اړیکو په دلیل د ټاکنو د لړۍ څخه پاتې شوي دي. په داسی حال کی چې یو شمیر هغه کاندیدانې نومونه چې په عملي ډول بیګناه دي او موجه دلایلو نشتوالی له کبله د قانوني پروسې د تیرولو څخه پرته د کاندیدانو د ورستی لیست څخه حذف شوي دي.

ښاغلی نادر نادري د افغانستان د آزاد او عادلانه ټولټاکنو بنیاد مشر ټاکنیزو شکایتونو ته د رسیدګۍ لپاره د مناسبې پروسې د نشتوالي څخه او د کاندیدانو لیست ته د هغه نفوذ لرونکو اشخاصو د ګډون او شمولیت له امله چې د غیر قانوني وسلوالو ډلو سره اړیکي لري خواشینۍ څرګنده کړي.

په ظاهره توګه ټولټال ۳۶ کاندیدان ږدی ۲۵۰۰ کاندیدانو څخه د افغانستان د ټاکنو د قانون سره سم د غیر قانوني وسلوالو ډلو سره د اړیکو په دلیل د کاندیدانو د لیست څخه حذف شوي دي چې پدی برخه کی د تاکنو د قانون 12 ماده 7 فقره، داسی صراحت لري: هغه اشخاص چې په عملي ډول د غیر رسمي نظامي ځواکونو یا وسلوالو ډلو غړتیوب یا مشري په غاړه ولري، نشي کولای چې ځان کاندید کړي.

د لومړنی پارلماني ټاکنو په بهیر کی چې په ۱۳۸۴ ه.ل کال کی ترسره شو ۳۵ تنه کاندیدان د غیر قانونی وسلوالو ډلو سره د تړ او له امله د ټاکنو کمیسیون بواسطه چې د ملی او نړیوالو غړو څخه جوړ دی د ټاکنیزو سیالیو څخه پاتې شول.

له هغې وروسته د بشري حقونو مدافع يو شمير شريټونو په اړوند ليست کې د هغو اشخاصو د نشتون له کبله چې د وسلوالو ډلو سره تړاو لري نيوکې وکړی او دايې د بشري حقوقو د تيري کوونکو لپاره پارلمان ته لار موندلو لامل وګڼه.

د ۱۳۸۹ کال په ټاکنو کی کانديدان د هغه کميسيون بواسطه چې د ټاکنو څپلواک کميسيون په مشرئ د کورنيو چارو وزارت، ملي دفاع وزارت او د امنيت عمومی رياست څخه جوړ دی د څيړنې او ارزونې لاندی راغلل.

فيفا د ټاکنيزو اعتراضاتو د اوريدنې د لړی په اړه په ځانګړې ډول د نهايی ليست څخه د يو شمير کانديدانو حذفول، د دی بهير ټولو اطلاعاتو ته نه لاسرسې په ځانګړي ډول د متهمه کانديدانو د پيژندنې لپاره معيارونه او هغه نا کافئ وخت چې اړونده کانديدانو ته د دفاع او د امنيتی مقاماتو لخوا د شواهدو د وړاندی کولو لپاره ځانګړې شوې ترڅو وارد شوی اتهام ثابت کړی څپله اندېښنه څرګندوي.

د فيفا اجراييوی رييس جانداد سپين غر پدی اړه داسې وايې: د يو روڼ بهير پرته مونږ نشو کولای چی پدی مطلب پوه شو چې آيا په رښتيا هم هغه اشخاص چې د ليسټ څخه حذف شوی ، ددی وړ وو چی د کانديديدو د حقه محروم شی؟ اويا هغه کانديدان چې په ورستی ليست کی پاتی دي، تول يی دا وړتيا لري چی د ټاکنو په بهيرکښی د کانديد په حيث پاتی شی؟ برسيره پردی هغه وويل چی : دا امکان شته‌چي بعضی تصاميم د سياسی ملحوظاتو او قدرت سالاری پر بنسټ نيول شوي وي نه د قانون د عادلانه پلي کيدو پر بنسټ.

په هغه راپور کی چی د ۱۳۸۹ کال په ټاکنو کې پر کانديدانو د اعتراضونو اوريدنې د پړاو په اړه خپرو شو. فيفا د اعتراض اوريدنی د کميسيون او د ټاکنو د کميسيون څخه داعتراضونو دڅيړنی د لړئ په هکله د ګډ راپور د خپريدو غوښتنه کړی وه همدا رنګه د خپلواک هيات جوړيدل چی د مدني ټولنې د غړو څخه متشکل وي ترڅو په دی بهير سمه څارنه وکړي، وړاندی کړ.

د اعتراضونو دڅيړنی د لړئ په اړه د فيفا سپارښتنی:

۱- د رونوالی نه شتون د سږ کال ټاکنو د اعتراضونو د څيړنی په بهير کی، د ټاکنيزو بنسټونو لکه د ټاکنو څپلواک کميسيون او د شکايتونو کميسيون اعتبار ته زيان رسولی او زمينه يی د جانبدارانه پريکړو او سياسی حقوقو نقض لپاره مساعده کړی ده. فيفا ټاکنيز ادارات دی ته هڅوی ترڅو:

الف) د سږ کال ټاکنو د شکايتونو اوريدنې لړی څخه د روان کال د زمري د لسمی نيته بهوری د بشپړ او کره راپور برابرول او خپريدل چی په هغه کی د فيفا له خوا مطرح شوی پوښتنې ځواب شي.

ب) د شکایتونو اوریدنې د لړۍ څخه د رسنیو او ټولو اړونده او ذیدخله اړخونو لپاره د سمو او په موقع اطلاعاتو برابرول او ترتیب.

ج) د ټاکنو د مختلفو پړاورنو او دهغی د سرته رسولو د څرنګوالي سره د خلکو د آشنا کولو په منظور د عامه پوهاوی د پراخه برنامو تدویر.

۲- د شکایتونو کمیسیون کی د رونوالی د نشتون اود سیاسی حقوقو د حمایت څخه د ژمنی نشتوالی له کبله چی په ملي او نړیوالو قوانینو کی مشروعیت لری، د دی بهیر اعتبار د جدي ننګونې سره مخامخ کړی دی. د شکایتونو او محافظت په منظور فیفا په راتونکی کی د شکایتونو کمیسیون دې ته ه څوي چی:

الف) د غیر قانوني وسلوالو ډلو سره اړونده کاندیدانو لپاره او هغه مدارک چی د کاندیدانو دفاع په وخت کی استناد پری شوی د خلکو اطلاع ته ورسوی.

ب) د یو خپلواکی څیړنی هیات جوړول چی د مدنی ټولنی د غړو د بشری حقوقو د سازمانونو او یوناما څخه متشکل وي چی د اعتراضونو د څیړنی په بهیر کی د هغه متهمو کاندیدانو د دوسیو د څیړنو په منظور چی د غیر قانوني وسلوالو ډلو سره د اړیکو درلودلو له کبله د لیست څخه حذف شوي. بیا کتنه وکری، ترڅو د راتلونکو ټاکنو لپاره یوه ښه تجربه وي.

بریښنا لیک: media@fefa.org.af

تیلفون شمیرې: 0784449312 -0799225841